


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!

---

ايمل « مړوند »
د نشر نېټه :   ۲۵  دسمبر ۲۰۱۲ میلادی

# د ختيځ ادبي بهير ۲۳ مه اونيزه ناسته







غرمو وهلى دى تصوير د جانان تت ښکاري

دا اونۍ ختيځ ادبي بهير  د ځوان شاعر فهيم  رحيمزي  په غزل كركتنه  وكړه  او هغه ته يي  نيكې مشورې وركړې.ختيځ ادبي بهير خپله ( ۲۳ ) مه اونيزه غونډه د ( ۱۳۹۱) كال د ليندۍ په (۲۸) مه نيټه د جلال اباد ښار د ميودوتيک په انګړ كې د جمعې په مباركه ورځ سهار نه بجې پيل او د غرمې تر ناوخته يي دوام وكړ.

دا پله د دريځ چارې قاري زيارمل سوكال سره وې او ګزارش ايمل مړوند ليكه.  د ميلمنو پر ځوكيو ښاعلى عبيدالله اغيز او جاويد شينا  ناست او د كوربه په توګه ورسره غزت الله ځواب ملګرتيا كوله . غونډه محمود خزان د قران پاک د ځو مباركو اياتونو پر تلاوت پرانيسته.

د تيرې ناستي ګزارش ايمل مړوند ولوستلو او ناستو ملګرو ټولو خوښ كړ.كه څه هم په تيره غونډه كې ټاكل شوې وه، چې بختيار ساحل به خپل غزل كركتني ته وړاندې كوي، خو د نومورې د نشتون له امله  فهيم رحيمزي خپل غزل كركتني ته وړاندې كړ او ملګرو پرې ازاده كركتنه وكړه.  ښاغلي رحيمزي ته يي نيكې مشورې وركړې او هغه ته يي د لا برياليتوب غوښتنه وكړه.

د غزل مطلع داسې وه:

پتې ملهم د دې وطن په پرهرونو ږدمه
خود به زخمي زخمي لاسونه په ګلونو ږدمه

---

پر لومړي بیت د خبرو پیل عزت الله څواب وکړ. وې ویل که څه هم مطلع خوږه او روانه ده خو داوړه نیم بیتي سره خپلو کې پخلا او همغږي نه دي. څواب ((زخمي لاسونه په ګلونو باندې ایښودل)) سم ونه بلل.
خو ډاکتر خیروالله خیال بیا د غزل مطلع خوښه کړه او یې ویل (( سمبولونه د شعر ژبه ده او دلته کولی شو چې موږ د ګلونو نه د سمبول کار واخلو، نو زما په باور یو ښه تړاو یې پیدا کړی دی)).
ښاعلی اغیز هم د څواب سره همغږی و او د نیم بیتو ترمنځ یې د تړاو کمزورۍ ته اشاره کوله. څینو نورو ملګرو بیا بیت روان او ساده وباله او خوښ یې کړ.
د غزل لومړی بیت داسي و:

بلا مودې وشوې چې خړې دوړې ناستې دي پرې
خوله یې تصویر ته د تندي په شنو خالونو ږدمه

څواب د کافیې او ردیف له پلوه بیت خوښ کړ، خو د نیم بیتو ترمنځ کمزوری تړاو یې بیا یاد کړ.هغه وویل د دې بیت په ګډون ټول غزل ښه او روان دی، خو د تړاو ستونزه یې په اول بیت کې هم لیدل کیږي.هغه د تندي په خالونو د خولې کېښول پر ځای خیال ونه باله.
خو ډاکتر خیال بیا په ګرد وهلي تصویر باندې شونډو کیښول د ډېرې زیاتي مینه نښه یاده کړه او بیت یې ښه تصویري یاد کړ.
اغیز د تل په شان د څواب پلوي وکړه او د ادبي فنون له مخې یې د نیم بیتو ترمنځ د کمزوري تړاو خبره یاده کړه.وې ویل یوه ښه تشبه او ښه ترکیب یې نه دی وړاندې کړی.
ایمل مروند بیا په ګرد وهلي تصویر باندې د شونډو یا خولې کیښودل سم وبلل. هغه وویل دلته تصویر ګرد وهلی دی او دی له ډېرې مینې نه د شونډو په سرونو ترینه ګردونه څنډي.
د غزل دویم بیت په دې ډول و:

غرمو وهلی دی تصویر د جانان تت ښکاري
ګلابي رنګ ورته د شونډو په سرونو ږدمه

څواب وویل: ډېر ښکلی او روان بیت دی که څه هم د تصویر کلیمه پکې تکراري ده، خو بیا هم ښکلی دی .
ډاکتر خیال هم بیت وستایه او زیاته یې کړه، چې د وچو شونډو خاپ په تصویر باندې ښه انځور دی.
د غزل دا بیت ټولو ملګرو خوښ او وې ستایه.
دریڅ وال څلورم بیت ته لاړو چې داسي و:

د یو سپین سرې مور په زړه کې بلا ستری ارمان
ګیډی د ګلو مې د مور په ارمانونو ږدمه

ډاکتر خیال وویل ښه بیت دی او د مور په ارمانانو د ګلونو ګیډې ایښودل یو ښه تړاو دی.
څواب بیا د مور د کلیمي په اړه خبرې وکړې. وې ویل د مور کلیمه دومره خوږه او زړه راښکونکې ده، چې په هر څومره کمزوري بیت کې هم وکارول شي بیا هم خوږه لګیږي او خوند کوي.
دا بیت هم د ناستو ډېری ملګرو لخوا خوښ او وستایل شو.
د غزل پینځم بیت په دې ډول و:

یوه د عشق لمبه مې ځان لره جذبی ملګرو
څکه پتنګ غوندې وزرې په اورونو ږدمه

ډاکتر خیال وویل بیت روانیت لري خو د پتګ، شمعې او داسي نورې کلیمې د پخوانه راپاتې تکراري او سولیدلي کلیمې دي، چې تر دې وړاندې هم ډېرو کسانو یادې کړي دي.
هغه زیاته کړه زه نه وایمه چې څوک دې اوس نه کاروي، خو هڅه دې وشي چې په نوي رنګ او خوند کې وکارول شي.

هره لیکنه د لیکوال خپل نظر دی او خپله دلیکوال اند څرګندوی
استفاده از مطالب سایت « ارګان نشراتی صلح و تفاهم سعید افغانی » با ذکر مأخذ آن آزاد است

د نوموړي په وينا که چېرته تکراري کليمې هم په نوي ډول وکارول شي، نو خوږې لګيږي او د شعر خوند او رنګ زياتوي.
د غزل ورستی بيت يا مقطع داسي وه:

د مينې ژوند له خونده ډک دی شته دي ډېرې کيسې
بس رحيمزيه غتې ګټې په غمونو ږدمه

څواب وويل ښه بيت دی او حالاتو ته يې اشاره شوې ده، شاعر خپل جانان ته وايي، چې ياره غمونه خو هسې هم نه حلاصيږي راځه چې يو شيبه د مينې کيسې هم وکړو او په غمونو غټه تيږه يږدو.
تر څواب ورسته د دريځوال لخوا ډاکتر خيروالله خيال د ټول غزل د ارزونې په موخه دريځ ته ووبلل شو.
نوموړي په ټوله کې غزل خوښ او وستايه خو بيا يې هم په نوښت ټينګار وکړ. خيال رحيمزي ته د لا برياليتوب دوعا وکړه او ځوانانو شاعرانو ته يې د مطالعې او مشاعدې کولو لارښونه و کړه.
په پای کې د شعر شاعر دريځ ته وبلل شو.رحيمزي د ټولو دوستانو نه مننه وکړه او ختيځ ادبي بهير يې د ځان او د نورو هغه کسانو لپاره چې ليک لوست نه شي کولی يو روزنيز مرکز ياد کړ.هغه وويل نن يې د خپل شعر په اړه ډېر داسي څه واوريدل چې په راتلونکي کې به ترېنه په خپله شاعری کې ډېره ګټه واخلي.

د غزل تر ارزونې ورسته يوه ازاده مشاعره وشوه، چې دغو راغلو ښاغلو پکې خپل شعرونه وويل:
محمود خزان، عبدالهادي دريځ، عزت الله څواب، خالد تکان، حضرت يوسف يوسفزي، ډاکتر بشير احمد پرهر، احمد جمال جمال، احسان الله افکار، ايمل مرووند، رحمت الله زيارمل، ضيااالدين همت مل، بازمحمد عابد، امين الله ملاخيل، شکرالله قلندري، استاد غلام سرور حقيار، حاجي مطيع الله مراد، ناصر مومند، فهيم رحميزي، اخلاص وطن يار، صداقت غورځنګ، داود عربزي، انجينر زيارمل سوکال،ا نجينر ستانه مير زهير شينواری، استاد شېر حسن کمالزی، عبدالعزيز شجاع، دوست محمد دوست، شفيق الله مصور، جلال الدين جمال او حضرت الله لمرين.
تر مشاعرې ورسته د غونډې مشر ميلمه اغيز دريځ ته وبلل شو، نومړي خوښې څرګنده کړه چې د ختيځ ادبي بهير په اونيزه ناسته کې د ګډون وياړ لري او د بهير غونډې يې د ادب په پرمختګ او د ځوانانو په روزنه کې خورا اغيزمنې يادې کړې.

راتلونکې غونډې نه سيد هدايت الله شيدا ژمنه وکړه، چې خپله نثري ليکنه به کرکتنې ته وړاندې کوي.
غونډه غرمه ناوخته پای ته ورسيده.

ريورټر: ايمل « مرووند »

www.said-afghani.org — بازگشت به صفحه اصلی